# لنډه قیصه

د واقعاتو د تسلسل نه چي کوم زنځیر یا تار جوړیږي او یو تاثر پیدا کوي دې ته قیصه وایي
.

لنډه قیصه د داستاني ادب یو ډول دی لکه له نامه ځخه معلومیږي په لنډه قیصه کښې چې کومه قیصه بیانیږي هغه لنډه اومختصره خو له فني اعتباره پوره او بشپړه وي . ټولو ادیبانو د لنډې قیصې بېل بېل تعریفونه کړي دي خو تر ټولو جامع تعریف یې دا دی
.

لنډه قیصه هغه نثري داستان ته وئیل کیږي چې په یوه ناسته کښې پای ته و رسیږي او د لیکلو مقصد یې د ټولني د سماجي رویو مثبت روزنه وي یا دا یو خیالي یا فکري قیصه وي چې د ژوند یا د کردار یو اړخ ښکاره کوي او په لنډ وخت کښې لوستل کیدای شي.

## دلنډې قیصې قسمونه : د لنډې قیصې درې غټ قسمونه دي
.

ا.واقعاتي لنډه قیصه . په داسي قسم لنډه قیصه کښي د قیصې موضوع یو خاص واقعه وي او ټوله قیصه د دغي قیصې نه چاپېره ګرځي

.

ب. ماحولياتي لنډه قيصه . په داسي قسم قيصه کښې د خواوشا ماحول يا چاپېرچل عکاسي شوې وي او ډېر اهميت ورکړل شوی وي
.

پ.کرداري لنډه قيصه .په داسي قيصه کښې د لنډې قيصې موضوع يو خاص کردار وي او دهغه کردار پر مختلفو اړخونو باندي رڼا اچول شوې وي
.

## د لنډي قيصې اجزا :

د لنډې قيصې اجزا په لانديني ډول دي .

۱.سرخي يا عنوان ۲.پلاټ۳،قيصه،۴.سسپنس،۵.کردار. ۶،مکالمه، ۷.منظرکشي، ۸.نقطه عروج .

۱.پلاټ : پلاټ د انګريزي ژبي ټکی دی ، په لغات کښې د دې ګڼې معنې دي لکه منصوبه، خاکه،د مځکې ټکړه،او سازش کول ، اصطلاحي معنا يې هم په څو رنګه کولای شې .د مثال په ډول ، خام موادو ته ترتيب ورکول ،اډانه سازول، په ډرامه،افسانه او ناول کښې د واقعاتو نقشه جوړول،واقعاتو او کردارونو ته داسي ترتيب ورکول چې په لوستونو او کتونکو کښې د تجسس باعث و ګرځي .هره قيصه

د ډېرو واقعاتو نه رغيړي د واقعاتو تسلسل دغه فطري تړون ته چې منطقي ربط لري پلاټ وئيلای شو
.

۲.قيصه. د واقعاتو د تسلسل نه چي کوم زنځير يا تار جوړيږي او يو تاثر پيدا کوي دې ته قيصه وايي .

۳.سسپنس .په لنډه قيصه کښې سسپنس يا تجسس ډېر زيات اهميت لري .د تجسس نه بغير د لنډي قيصې خوند خړ وي .

۴.کردار. د قيصې د واقعاتو او حادثاتو نه متاثره کېدونکي حالات سازونکي او ورانونکي کسانو ته د فن په اصطلاح کښې کردارونه وايي . په افسانه کښې د ډېرو کردارونو ګنجايش نه وي ،ځکه چې د افسانې اختصار د دې خبري اجازت نه ورکوي .

۵.مکالمه :کردارونه چې کومې خبري کوي هغه ته مکالمه وايي.

۶.منظر کشي : واقعات چې په کوم چاپيرېال کښې پېښيږي د هغې تصوير په الفاظو کښې راکښل منظر کشي ده .

۷.نقطه عروج يا کلايمکس: کله چې قيصه په مخه روانه وي دغه وخت کښې دقيصه ليکونکي د قيصې رفتار لږ سست کړي نو لوستونکی ډېر په شوق سره قيصه لولي .او دهغه راتلونکو واقعاتو ته ډېره تلوسه وي ، تر دې چې يو افسانه نګار قيصه هغه منزل ته رسوي کوم ته نقطه عروج وايي ، د دغه ځای قيصې اثر تر ټولو زيات وي
.

مينه او مننه

عبدالصمد جلالزی